# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

# خبري بلوټن

# News Bulletin

**25سرطان _سال 1402**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه

په یو شمېر ولایتونو کې له  دوه زرو زیاتو کو رنیو سره مرستې وشوې ---------------------------------- 1

نزدیک به 100 خانواده در ولایت سمنگان کمک نقدی دریافت نمودند------------------------------------- 1

یونیسف: ۲۸۹ کودک مهاجر در بحیره مدیترانه جان باخته اند-------------------------------------------- 2

پناهنده افغان: پس از دو سال اقامت در هتلی در بریتانیا، از آمدن به این کشور پشیمانم--------------------- 4

قونسل ا.ا: بیش از ۲میلیون ۵۰۰هزار مهاجر افغان در پاکستان حضور دارد ------------------------------- 4

نزدیک به 300 کودک مهاجر امسال غرق دریای مدیترانه شده‌اند------------------------------------------ 6

په میدان وردگو کې د څه باندې ۴۳ میلیونو افغانو په لګښت د ۱۸ پروژو چارې پیل شوې ----------------- 7

د ایران د کورنیو چارو وزیر: افغان کډوال امنیتي ستونزې نه جوړوي-------------------------------------- 7

ملګري ملتونه: سږکال ۲۸۹ماشومان د مدیترانې بحیرې له لارې اروپا ته د تګ پرمهال مړه شوي -------- 9

کرېکټ: د افغانستان الف لوبډلې د اسیا جام ابېرجېنګ سیالیو کې شرې لنکا ته ماته ورکړه--------------- 11

# متن کامل اخبار

## په يو شمېر ولايتونو کې له دوه زرو زياتو کورنيو سره مرستې وشوې

د وزارت ويب سايت




تېره اوونۍ د هېواد په نهو ولايتونو کې د يوشمېر مرستندويه بنسټونو له لورې د مهاجرينو چارو وزارت د ولايتي رياستونو او آمريتونو له لارې د چنګابن له ۱۷ مې تر ۲۲ نېټې پورې ۲ زره ۷۸۰ کورنيو سره مرستې شوې.
يادې کورنۍ، چې په قندهار، سرپل، باميان، تخار، ننګرهار، بغلان، بادغيس او غزني ولايت کې د تېرو جګړو او طبيعي پېښو له امله زيانمنې شوې وې هرې کورنۍ ته د اړتياوو په نظر کې نيولو سره نغدي پيسې، خوراکي توکي او د لمريزې برېښنا وسايل وېشل شوي دي.

## نزدیک به 100 خانواده در ولایت سمنگان کمک نقدی دریافت نمودند

ويب سايت وزارت



**برای 99 خانواده در ولایت سمنگان با همکاری موسسه اکشن اید کمک نقدی به تاریخ 22 سرطان توزیع شد.**

**خانواده های یادشده که از طرف ریاست مهاجرین آن ولایت و نهاد های همکار در ولسوالی های روی دو آب و خرم سارباغ سروی وشناسایی شده بودند مبلغ 12 هزار و 720 افغانی جهت اعمار سرپناه به دست آوردند.**

**قابل یادآوری است که فامیل های مذکور قبلا چهارقسط مساعدت متذکره را بخاطر اعمار سرپناه دریافت نموده بودند.**

## یونیسف: ۲۸۹ کودک مهاجر در بحیره مدیترانه جان باخته اند

دویچه وله



براساس گزارش سازمان ملل متحد، در شش ماه اول سال جاری در مسیر های مهاجرت از طریق بحیره مدیترانه، ۲۸۹ مهاجر زیر سن جان باخته اند. یونیسف انتقاد می‌کند که اقدام‌های کمی برای نجات آنها روی دست گرفته می شود.

یونیسف یا صندوق کودکان سازمان ملل متحد به روز جمعه در ژنیو گزارش داد که این رقم تقریباً دو برابر بیشتر از سال ۲۰۲۲ در همین مدت بوده است. از ماه جنوری تا پایان ماه جون سال گذشته دست کم ۱۵۰ مهاجر زیر سن از در این مسیر ها جان باختند.

ویرینا کناوس، مسول امور مهاجرت و آوارگی در یونیسف گفت: «همواره کودکان بیشتر در پی منازعات و تغییرات اقلیم، جان شان را به خطر می‌اندازند و به این ترتیب راه پرخطر از طریق بحیره مدیترانه به سوی اروپا را در پیش می گیرند«.

بیشتر بخوانید :دست کم ۳۰۰ پناهجو در اقیانوس اطلس ناپدید شده اند

این سازمان به این نظر است که شمار حقیقی قربانیان مهاجر زیر سن به مراتب بیشتر است؛ زیرا قایق های بسیاری بدون زنده مانده ها غرق می‌شوند و به این دلیل مرگ و میر سرنشینان قایق ها هیچگاهی راجستر نمی شوند.

بیشتر بخوانید :تعداد مهاجران زیر سن بدون همراه در آلمان افزایش یافته است

یونیسف مفهوم «کودکان» را برای همه افراد زیر سن به کار می برد و یک تفاوت میان کودکان و نوجوانان وجود ندارد. در آلمان ۱۳ ساله‌ها کودک اند و از سن ۱۴ تا ۱۸ سالگی، از نوجوانان صحبت می شود.

یونیسف تخمین می‌زند که در میان مهاجران در مسیر بحیره مدیترانه، در شش ماه نخست سال جاری، ۱۱ هزار و ۶۰۰ مهاجر زیرسن بوده‌اند که این رقم نیز تقریباً دو برابر بیشتر از سال قبل در همین مدت بوده است. بسیاری از آن‌ها بدون والدین شان هستند.

بیشتر بخوانید :بیش از ۱۰۰ پناهجوی زیر سن از لاری در مکسیکو یافت شدند

خانم ویرینا کناوس انتقاد می‌کند که اقدام‌های کمی برای نجات مهاجران روی دست گرفته می شود: «صدها دختر و پسر در اثنای این اهمال جان می دهند«.

## پناهنده افغان: پس از دو سال اقامت در هتلی در بریتانیا، از آمدن به این کشور پشیمانم

بی بی سی فارسی



یک پناهنده افغان می‌گوید که حالا و پس از حدود دو سال زندگی در یک هتل موقت پناهجویان در بریتانیا، از آمدن به این کشور پشیمان شده است.

سمیع (که نامش را تغییر داده‌ایم) و خانواده‌اش در میان هزاران نفری بودند در سال ۲۰۲۱ به بریتانیا آورده شدند.

بوریس جانسون، نخست‌وزیر وقت، وعده حمایت از این دسته از پناهندگان را به عنوان بخشی از عملیاتی موسوم به «استقبال گرم» داد.

اما اکنون برای هزاران نفر از آنها که هنوز در هتل‌ها به سر می‌برند، از سوی وزارت کشور نامه‌های «اخراج» از این مکانهای اقامتی، ارسال شده است.

## قونسل ا.ا: بیش از ۲میلیون ۵۰۰هزار مهاجر افغان در پاکستان حضور دارد

طلوع نیوز

**محمد عامر خان معاون نماینده دایمی پاکستان در سازمان ملل متحد می‌گوید که کشورش از این پس نمی‌تواند با مهاجران افغانستان همکاری کند.**



**قونسل امارت اسلامی در شهر کراچی پاکستان می‌گوید که بیش از ۲ میلیون و ۵۰۰ هزار مهاجران کشور در پاکستان بودوباش دارند که از این میان، ۳۰۰هزار تن آنان مدارک قانون ندارند.**

**عبدالجبار تخاری می‌گوید که سفارت و قونسل‌گری امارت اسلامی در کراچی در تلاش است تا به چالش‌های مهاجران افغانستان در پاکستان رسیدگی کنند.**

**آقای تخاری گفته است: «در مجموع تعداد مهاجرینی که در پاکستان اسناد قانونی با خود دارند، ۲ میلیون ۱۰۶ هزار ۶۵۸ تن می‌باشند«.**

**همزمان با این، محمد عامر خان معاون نماینده دایمی پاکستان در سازمان ملل متحد می‌گوید که کشورش از این پس نمی‌تواند با مهاجران افغانستان همکاری کند.**

**او در این باره گفته است: «بحران بشری و اقتصادی در افغانستان سبب شده که میلیون‌ها افغان برای نجات و رهایی از گرسنگی و فقر مهاجرت کنند و پاکستان شاهد بیشتر این مهاجرت‌ها بوده؛ اما اکنون دیگر نمی‌تواند که در این بخش همکاری کند و افغان‌ها باید از سوی اعضای دیگر جامعه جهانی میزبانی شود«.**

برخی از فعالان حقوق مهاجران به این باور هستند که حکومت سرپرست باید به هدف جلوگیری از این‌گونه مهاجرت‌ها، زندگی با ثبات برای شهروندان در داخل کشور فراهم سازد.

آصفه ستانکزی، فعال حقوق بانوان، گفت: «امارت اسلامی زمینه یک زندگی باثبات را فراهم سازد تا مانع این مهاجرت‌ها گردد«.

پیش از این، وزارت مهاجران و عودت کنندگان آمار داده بود که نزدیک به سه میلیون شهروند کشور در پاکستان، نزدیک به سه میلیون شهروند دیگر در ایران و یک میلیون هم در کشورهای دیگر بود و باش دارند

## نزدیک به 300 کودک مهاجر امسال غرق دریای مدیترانه شده‌اند

رادیوکلید

صندوق حمایت از کودکان سازمان ملل متحد (یونیسف) می‌گوید که در سال جاری میلادی، نزدیک به 300 کودک مهاجر در دریای مدیترانه، غرق و یا ناپدید شده‌اند.



یونیسف می‌افزاید که در هر هفته، بیش از یازده کودک در راه رسیدن به کشورهای اروپایی، در دریای مدیترانه غرق می‌شوند.

یونیسف از کشورهای جهان، به‌خصوص کشورهای اروپایی خواسته است که در قبال کودکان مهاجر به وظایف خود عمل نموده و زمینهٔ مهاجرت قانونی و امن را برای کودکان فراهم سازند.

این در حالی‌است که بر اساس آمار ارائه شده از سوی سازمان ملل متحد، از سال 2018 میلادی به‌اینسو، هشت هزار و 274 مهاجر در دریای مدیترانه غرق و یا ناپدید شده‌اند که یک هزار و 500 تن شان، کودکان بودند.

## په میدان وردګو کې د څه باندې ۴۳ میلیونو افغانو په لګښت د ۱۸ پروژو چارې پیل شوې

آژانس اطلاعاتی باختر




**د میدان وردګو د کلیو، بیارغونې او پراختیا ریاست تر چتر لاندې د یونیسف ادارې په مالي ملاتړ په مرکز میدان ښار سربېره، نرخ، جلریز، سید آباد، چک او جغتو ولسوالیو کې د څښاک پاکو اوبو رسولو په برخه کې د ۱۸ بېلابېلو پروژو چارې پیل شوې.**

**په یادو پروژو کې د ۱۰ نیمګړیو پروژو بیا رغولو او د پاتې ۸ پروژو په اساسي بڼه رغول شامل دي، چې د یادو دوو ادارو د انجنیري خدمتونو برخو تر بشپړ تخنیکي نظارت لاندې په شا او خوا څلور میاشتو کې رغول کېږي.**

**د یادو پروژو په بشپړېدو سره ۳ زره ۱۱۱ کورنیو، د دوو ښوونځیو ۱۰۳۰ زده کوونکو، د یوه روغتیایي مرکز او ۳۰ جوماتونو ته به پاکې اوبه برابرې شي.**

**د یادونې وړ ده، چې د یادو پروژو د پلي کولو پر مهال د سیمې لسګونه تنو فني او غیر فني کاریګرو ته د کار زمینه هم برابره شوې ده.**

## د ایران د کورنیو چارو وزیر: افغان کډوال امنیتي ستونزې نه جوړوي

د امریکا غږ




عکس- ارشیف

**په دې وروستیو کې د ایران د کورنیو چارو د وزارت چارواکو ویلي چې، په دغه هېواد کې میشت افغان کډوال کوم امنیتي ګواښ نه رامنځته کوي.**

**د ایران د کورنیو چارو وزیر احمد وحیدي، د پنجشنبې په ورځ د جولای ۱۳مه (د چنګاښ ۲۲مه) له ایسنا خبري اژانس سره په مرکه کې وویل چې په ایران کې د میشتو افغان کډوالو د کره شمیرې ویل ګران دي، خو د اټکلونو له مخې اوس مهال نږدې پنځه میلیونه افغانان په دغه هېواد کې ژوند کوي.**

**هغه په ایران کې د افغان کډوالو له خوا د امنیتي ستونزو د رامنځته کېدو په اړه د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل: "دا کډوال د ایران لپاره امنیتي ستونزې نه جوړوي.... خو کیدای شي په ځینو ټولنو کې امنیتي ستونزې وي، خو په ټوله کې زموږ استخباراتي ادارې داسې کوم راپور نه دي ورکړي او که چیري داسې کوم راپور وي، نو ورته به رسیدګي وشي".**

**ښاغلي وحیدي دې خبرې ته په اشارې سره چې د ایران امنیتي ادارې په هغه هېواد کې پر مېشتو افغان کډوالو ځانګړې کنټرول او څارنه لري، وویل چې د کډوالو چارو ته باید جدي پاملرنه وشي.**

**د ایران د کورنیو چارو وزیر دغه څرګندونې په داسې حال کې کړې، چې دغه هېواد د سه شنبې په ورځ، د جولای اتمه (د چنګاښ ۱۷مه) دوه تنه افغان اتباع په عام ډګر کې اعدام کړل.**

**د ایران قضایي چارواکو ویلي، چې دغه کسانو د تېر کال په شیراز ښار کې د شاهچراغ پر زیارت په وسله وال برید کې لاس درلود. ددغه برید پېره چې، ۱۳ تنه پکې ووژل شول او ۳۰ تنه نور ټپیان شول، اسلامي دولت یا داعش ډلې پر غاړه اخیستې ده.**

**په نړۍ کې د افغان کډوالو او کورنیو بې ځایه شویو په اړه د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ (یو ان اچ سي ار) د تازه شمېرو له مخې څه باندې ۹.۲میلیونه افغانان له خپلو مینو او سیمو څخه په زوره بې ځایه شوي دي.**

**د دغه راپور له مخې، له دې ډلې څخه نږدې ۵.۶ میلیونه یې افغانان دي چې کډوالۍ ته ورته وضعیت لري پداسې حال کې چې ۳.۲۵ میلیونه یې بیا په کور دننه بې ځایه شوي دي.**

**دغه راز د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ په ټوله نړۍ کې د افغان کډوالو شمېر ۲۹۵زره ښودلې ده.**

**د دغو شمېر له مخې، د ۲۰۲۱ کال د اګست په میاشت کې پر افغانستان د طالبانو د بیا واکمنیدو وروسته، ډېری افغانان ایران او پاکستان ته تېښتېدلي دي.**

**دا پداسې حال کې دي چې د ملګرو ملتونو د بشري چارو د همغږۍ دفتر) اوچا (د جون د میاشتې په راپور کې اعلان وکړ چې د روان کال له جنورۍ څخه تر می میاشتې پورې څه باندې ۲۶۶ زره افغان کډوال له ایران څخه خپل هېواد ته ستانه شوي دي.**

**د ملګرو ملتونو د دې ادارې راپور ښیي چې له ایران څخه د راستنېدونکو ۴۳ سلنه نارینه، ۱۴ سلنه یې ښځې او ۴۳ سلنه یې تر ۱۸ کلونو کم عمره ماشومان دي.**

**پدې ترڅ کې د ایران د خراسان رضوي ولایت د بهرنیو اتباعو او کډوالو ادارې رئیس، حسین شرافتي راد، د جون په ۲۴مه (چنګاښ مه۳) د ایران له دولتي خبري اژانس ایرنا سره په مرکه کې وویل چې، د روان هجري لمریز کال له پیل څخه تر اوسه څه باندې ۹۰ زره افغانان د ایران د "دوغارون او تایباد" د پولو له لارې افغانستان ته ستانه کړای شوي دي.**

**تر دې مخکې ایراني چارواکو ویلي وو، چې په ایران کې شاوخوا څلور میلیونه افغان کډوال مېشت دي، چې شاوخوا یو میلیون یې د کډوالۍ قانوني اسناد لري او شاوخوا پنځه سوه زره یې ایراني پاسپورټونه او وېزې لري او پاتې نور یې له قانوني اسنادو پرته په دغه هېواد کې ژوند کوي.**

## ملګري ملتونه: سږکال ۲۸۹ماشومان د مدیترانې بحیرې له لارې اروپا ته د تګ پهمهال مړه شوي

د امریکا غږ




د مدیترانې سمندرګي له لارې اروپا ته تلونکي مهاجر

**ملګرو ملتونو د جمعې په ورځ جولای ۱۴ (چنګاښ ۲۳) وویل، د ۲۰۲۳ کال په لومړۍ نیمايي کې څه باندې ۲۸۹ ماشومان د مدیترانې سمندرګي له لارې اروپا ته د تللو پر مهال مړه شوي دي.**

**د ملګرو ملتونو د ماشومانو د ملاتړ ادارې "یو نیسف"ویلي چې دا شمیره د ۲۰۲۲ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د اروپا په لور د سمندري سفر په ترڅ کې د مړه شویو ماشومانو د ثبت شویو شمیرو په پرتله دوه برابره ده.**

**یونیسف همداشان د هغو ماشومانو لپاره چې اروپا ته د ځان ژغورنې لپاره ځي، د خوندي، قانوني او د لاسرسي وړ لارو چارو د رامنځته کیدو غوښتنه کوي.**

**د نړیوال مهاجرت او بې ځایه کیدو په چارو کې د یونسیف رئیسې ویرینا کناس وویل، ریښتینې شمیرې ښايي له دې هم ډیرې وي، ځکه چې په مرکزي مدیترانې کې ډیری کښتۍ چې مهاجر ماشومان په کې سپاره وو ډوبې شوي او د ژوندیو پاتې شویو کسانو هیڅ ثبت شوی ریکارډ نشته.**

**میرمن کناس وویل، "د هغو ماشومانو شمېر چې د مدیترانې بحیرې له لارې اروپا ته د رسېدو په هڅه کې یې خپل ژوند له لاسه ورکړی، د روان کال په لومړۍ نیمايي کې د تېر کال د همدې مودې په پرتله دوه چنده شوی دی".**

**کیناس زیاته کړه: "موږ اټکل کوو چې د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ۱۱۶۰۰ ماشومان بیا د مدیترانې له سمندرګي ښخه تېر شوي، چې دا د ۲۰۲۲ کال د همدې مودې په پرتله نږدې دوه چنده زیاتوالی ښیي".**

**یونیسف ویلي چې د ۲۰۲۳ کال په لومړیو دریو میاشتو کې شاوخوا ۳۳۰۰ ماشومان د مدیترانې سمندرګي له لارې اروپا ته تللي دي. دا شمیره د ټولو هغو ماشومانو ۷۱ فیصده ده چې د مدیترانې بحیرې ښخه په تیریدو اروپا ته رسیدلي دي. د یونیسف په وینا، دغه ماشومانو پرته له کوم مل کس اروپا ته تللي دي او یا هم د لارې په اوږدو کې له خپلو کورنیو ښخه جلا شوي دي.**

**د یونیسف د راپور له مخې د ماشومانو دغه شمېر د تېر کال د همدې مودې په پرتله درې چنده زیاتوالی ښيي.**

**اغلې کیناس وویل: "دا ماشومان باید پوه شي چې دوی یوازې نه دي. د نړۍ مشران باید ژر تر ژره د ماشومانو د ژوند د نه انکار کیدونکي ارزښت د په ډاګه کولو لپاره اقدام وکړي." هغې همداشان ویلي دي چې ددغو ماشومانو سره یوازې خواخوږي کفایت نه کوي، او د نړۍ مشران باید د اغیزمن حل موندلو لپاره پریکنده عمل وکړي.**

## کرېکټ: د افغانستان الف لوبډلې د اسیا جام ایمرجېنګ سیالیو کې شري لنکا ته ماته ورکړه

بی بی سی پښتو



د عکس سرچینه،ACB

**د اسیا ایمرجېنګ سیالیو په نننۍ لوبه کې افغان لوبډلې شري لنکا ته د ۱۱ منډو په توپیر ماته ورکړه.**

**شري لنکا د پچې له ګټلو سره لومړی افغانستان ته د منډو جوړولو بلنه ورکړه. افغانستان د نهو لوبغاړو په سوځېدو سره د ۲۵۳ منډو هدف وټاکه چې شري لنکا ونشوی کړی پوره یې کړي او ټوله لوبډله یې په ۳۹ اور کې د ۲۴۱ منډو په جوړولو سره وسوځېده.**

**په توپ وهنه کې د افغانستان لپاره ریاض حسن ښه وځلېد، ده په ۱۰۴ توپونو ۸۲ منډې وکړې. د نوموړي تر څنګ نور علي ځدراڼ ۵۳، اکرام علیخېل ۳۴، شاهدالله ۲۳ او شرف الدین اشرف ۱۹ منډې وکړې.**

**د شري لنکا لپاره میندو بهینوکا ۱۱۹، دوشن هېمنتا ۳۱ او لوبډلمشر دونېت ویلیلجي ۲۱ منډې جوړې کړې.**

**د افغانستان لپاره ابراهیم عبدالرحیمزي نن بیا ښه وځلېد او څلور لوبغاړي یې وسوځول. د ده تر څنګ محمد سلیم دوې، ضیاالرحمان دوې او شرف الدین اشرف یوه وېکټه واخیسته.**



Website: https://morr.gov.af
Twitter: https://twitter.com/MoRRAfg

په دې اتلوليو کې د افغانستان، پاکستان، هند، بنګله دېش، شري لنکا، عمان، نيپال او متحده عربي اماراتو اېمرجېنګ لوبډلې ګډون کوي.

په دغو سياليو کې د افغانستان راتلونکې لوبه د دوشنبې پر ورځ له بنګله دېش سره ده.

په افغان لوبډله کې د لوبډلمشر شاهدالله کمال تر څنګ، نورعلي ځدراڼ زبيد اکبري، بهير شاه، الله نور، اکرام عليخېل، رياض حسن، احسان الله جنت، بهير شاه محبوب، شرف الدين اشرف، اسحق رحيمي، ضيا اکبر، نويد اظهار، سليم صافی،بلال سميع ،ابراهيم عبدالرحيمزی او وفادار مومند غوره شوي دي.

دغه سيالی به د رواني جولای مياشتې تر ۲۳مې نيټې (لس ورځې) دوام وکړي.